د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۷

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۱۰هـق

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ ساير

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د ستري محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق ته، د دارالانشاء عمومي رياست پيشنهاد وړاندې کړی وو چې متن د پيشنهاد داسي دی:

((د دغه څلور قسمه موضوعاتو په باره کي څخکي و ټولو محاکمو ته هدايت شوی وو، چې هري محکمې يا د تميز عالي رياست ته که يوه موضوع د دغسي موضوعاتو راسي حق د اوليت به ورکوي، دغه موضوعات به تر نورو موجوده موضوعاتو څخکي فارغوي:

اول: د احتساب د محکمي موضوعات به تر نورو موضوعاتو څخکې خلاصوي.

دوهم: جزائي موضوعات به تر نورو موضوعاتو څخکي خلاصوي.

دريم: د بندي موضوع به تر نورو موضوعاتو څخکي خلاصوي.

څلورم: هغه موضوع چې د اصلاح د نقصاناتو په خاطر ابتدائيې يا مرافعې ته واستول شوه تر نورو موضوعاتو څخکې به يې خلاصوي.)

پورته ذکر شوی متن د اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا د مکتوب نمبر (۲۲۶ج٤) مورخ ۱۴۴۱/۱۲/۲۵هق په ذريعه د اسلامي امارت ټولو محکمو ته استول شوی وو.

بناءً پورتنی موضوع ستاسو درانه مقام ته پيشنهاد شوه هغه څه چې ستاسو هدايت وي واجب التعميل دي.))

د ستري محکمې عالي شورا، د دارالانشاء عمومي رياست د پورته ذکر شوي پيشنهاد په باره کي د تصويب نمبر(۳۷) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق په اساس داسي هدايت وکړ:

((دارالانشاء رياست دې د پورته ذکر شوي مکتوب متن تميزونو، ديوانونو او ټولو محاکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د ستري محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب هدايت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۱۴۴۴/۱/۱۰هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

دافغانستان اسلامي امارت

دمحاکمو عالي اداره

مکتوب نمبر: ۲۲۶ ج ۴ تاریخ ۲۵ - ۱۲ - ۱۴۴۱ هق

---

د اسلامي امارت و ټولو محکمو ته السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

وبعد:

دغه څلور قسمه موضوعات حق داولیت لري وهري محکمې یا دتمیز عالي ریاست ته که یوه موضوع ددغسي موضوعاتو راسي دغه موضوع به تر نورو موجوده موضوعاتو مخکي فارغوي.

اول:

د احتساب د محکمې موضوعات به تر نورو موضوعاتو مخکي خلاصوي.

دوهم:

جزایي موضوعات به تر حقوقي موضوعاتو مخکي خلاصوي.

دریم:

د بندي موضوع به تر نورو موضوعاتو مخکي خلاصوي.

څلرم:

هغه موضوع چي د اصلاح د نقصاناتو په خاطر و ابتدائیې یا مرافعې ته واستول سوه تر نورو موضوعاتو مخکي به یې خلاصوي.

والسلام

د محاکمو عالي اداره

Scanned with CamScanner